ketabton.com - The Digital Library

–په دې نړدې دوو سوو کلونو کې دوه، درې د کار خلک پیدا شول. له رحمدل دوی سره یې فرق درلود. له زړه یې د وطن جوړېدا غوښته، له خلکو سره یې مینه وه، تعلیم ته یې پام ور واړاوه، مکتبونه او کارخانې یې جوړې کړې، پوځ یې په پښو ودراوه، د بند، برق... رېل په فکر کې شول.

دوی غوښتل چې رحمدل دوی ویښ او د نورو ملکونو سیال کړي، د ژوند خوند ور وښيي، ورته ووايي چې وطن د ټولو مور ده، مه یې خپه کوئ. اباد یې کړئ. اه خلکو! ویښ شئ...

خو رحمدل دوی وېښېدا نه غوښته، وطن یې د غرمې له خوبونو ځار کړ. همدا نېک خلک یې پسې واخیستل... ځوک یې مړه کړل، ځوک یې له وطنه وشړل...

رحمدل دوی په سوله او هوساینه کې ناروغه کېږي. دوی له کراري، انساني ژوند او ابادي سره حساسیت لري، لکه لېوان یوازې په وینو کې خوشاله دي. ووژنه، ووژنه، ووژنه...

کارغه والوت.

هیلی مېلمنو ته وکتل، یو هم نه و، نیازۍ او سایرې توشکې او بالښتان ټولول.

پیشو او هیلی ورغلل. شېبه وروسته رحمدل راغی.

سایرې د نیازۍ غوږ ته خوله ور ټیټه کړه.

پیشو وویل:

–ورته و یې ویل چې شیرین اغا ته وایم، خوشاله دی. خبره به مې ومني.

سایره خپل پلار ته ورغله، په خواره خوله یې وویل:

–شیرین اغا! یوه خبره مې منې؟

رحمدل تریو ور وکتل.

نجلی خوله کږه کړه:

–نوې مور وایې چې دا درې میاشتې د پلار کره نه یم تللې، خیر دی، یوه شپه اجازه ورکه، مور یې سخته ناروغه ده. بس! سهار چایو ته بې بېرته همدلته وغواړه.

ketabton.com - The Digital Library

–زموږ لوی مشکل دا دی چې د ځان لپاره نه، د خلکو لپاره ژوند کوو. تعلیم په نر و ښځه فرض دی. پاتې شوه د مکتب خبره! زه بې په خپل مصرف جوړوم.

رحمدل خپلې ورېې لور ته وکتل، یوه پایڅه بې پرې وه. و بې ویل:

–غیرته زویه! ټولې نجونې په موټر کې درسره کېنوه. د ولسوالي په بازار کې چې بې څه به کار و، خوښ دې بې کړي.

د غیرت تندی تریو شو:

–شیرین اغا! داسې نو څوک نه کوي! زه به بې ورته راوړم.

رحمدل وویل:

–نه! تا ته مې تېر اختر یوه سدری راوړې وه، تر اوسه لا پرته ده، ویل دې چې رنګ مې بې خوښ نه دی. دوی هم زړه لري.

سایرې ته بې وکتل، و بې ویل:

–بچکې! ما وبخښه. نه پوهېدم. یو تان ټوکر به مې راوړ، جامې او د کوټو پردې به مو له یوې ټوټې وګنډلې. په دې کې څه بده ده چې په خپله خوښه ځانونو ته ټوکر، څپلی او ټیکري واخلئ.

د سایرې سر بې پر خپل ټټر پورې ولګاوه. په ژړغونې غږ بې وویل:

–اه ګرانې! پلار دې وبخښه. ښه ده چې کونډه ته مې ور نه کړې.

غلی شو. سایرې حیرانې سترګې ورته نیولې وې.

رحمدل وویل:

–له دې وروسته به په دې کور کې له  نجونو نظر اخیستل کېږي. دا د دوی شرعي حق دی، چېرته چې بې خوښه نه وه، نه به بې ودوم.

یو دم بې وژړل. په ژړا کې بې له ټولو ښښنه وغوښته. خپله سپکه خوله بې یاده کړه، و بې ویل چې سر له اوسه به پوچ پاش نه وایي.

